مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر

۲۰۲۶/۰۱/۲۶

# نرمي

لږخه نرم سه په نرمي دی کي راحت دی
نرمي پلار دی نرمي مورده دا فرحت دی

هغه خلکوچي خپل کړي تل نرمي ده
هر مشکل ته يې ويلی غوڅ رخصت دی

وعظ تبليغ او دعوت وسي په نرمي کي
په نرمي کي د انسان نغښتی عزت دی

په نرمي تل د حکومت چاري چليږي
په نرمي کي تل پايښت د هردولت دی

نرمي خپل کړه په نرمي خلک تابع سي
په نرمي کي ځښتن ايښی برکت دی

چي و بل ته توصيه دي د نرمي کړي
دادي ځانته هم نوميره نصيحت دی

جنوري - ۱۷ - ۲۰۲۶
کلفورنيا - متحده ايالات



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ